دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده ګڼه

- دمـــالونودحمل اونقل قـــانون
- دافغانستان داسلامي جمهوريت دعلـــومواکاډمی دعلمي کادر

- قـــانون حمـــل ونقل امـــوال
- مقررهٔ کادر علمی اکادمی علوم جمهـــوری اسلامـــی افغانستان


دخپرېدونېټه:د۱۳۸۸ هــ.ش کال د لړم دمياشتې(۱۶)
پرله پسې نمبر:(۱۰۰۱)

تاريخ نشـــر: (۱۶)عقرب سال ۱۳۸۸ هــ . ش
نمبر مسلسل: (۱۰۰۱)

| | |
|---|---|
| د امتیــاز خاوند: | دعدلیــي وزارت |
| مسئول چلوونکی: | حیدر "محقق" |
| | ۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸ |
| د دفتر تیلفون: | ۲۱۰۳۳۷۵ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمم محمدجان | ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۵۰) افغانی

تیراژ چاپ اول: (۵۰۰۰) جلد

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباطعامه، چهارراهی پشتونستان کابل

## د مـــالـــونو د حـــمل او نقـــل د قـــانون د توشېح په هکله دافغانستان اسلامي جمهوريت درئيس فـــرمان

ګڼه : (۱۲۵)
نېټه : ۱۳۸۸/۷/۳۰

لمړۍ ماده :
د افـــغانستان د اســـاسي قـــانون د څلور شپيتمې مادې د(۱٦) فقرې او سلمې مادې دحکم له مخې، د مالونو د حمل او نـــقل قانون چې د ملي شوري د مجـــلسونو د ګـــډ هيئت د۱۳۸۸/٦/۱۰ نيټې د (۱۴۳)ګڼې مصوبې پربنسټ، په (۷) فـــصلونو او (۳۰) مادوکې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون حمل ونقل اموال

شماره : (۱۲۵)
تاريخ : ۱۳۸۸/۷/۳۰

مادۀ اول :
به تأسی ازحکم فقرۀ (۱٦) مـــادۀ شصت وچهـــارم ومـــادۀ صـــدم قـــانون اساســـی افغانـــستان ، قانون حمل ونقل اموال را که بـــه اساس مصوبۀ شماره (۱۴۳) مؤرخ ۱۳۸۸/٦/۱۰ هيئـــت مخـــتلط مجلسين شورای ملی به داخل (۷) فصل و (۳۰) ماده بـــه تـــصويب رسيده، توشيح می دارم.

**دوه يمه ماده :**

دغه فرمان دتوشيح له نېټې څخه نافذ اوله قانون او دملي شوري د مجلسونو دګډ هيئت له مصوبې سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپورشي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**مادۀ دوم :**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون ومصوبۀ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی درجریدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د افغانستان ملي شوري

## مصوبه

## دمالونو دحمل اونقل قانون

پرله پسې ګڼه : (۱۴۳)
دتصويب نېټه : ۱۳۸۸/٦/۱۰
د اساسي قانون دسلمې مادې له درج شوي حکم سره سم ، دملي شوري د دواړو غونډو له پنځو پنځو غړو څخه جوړ شوی ګډه هيئت د مالونو د حمل او نقل قانون په اووه فصلونو اودېرش مادوکې د۱۳۸۸ کال د وږي د مياشتې په لسمه نېټه فيصله کړ.

دګډه هيئت رئيس
انجنير محمدخان

دګډه هيئت مرستيال
قاضی سعدالله ابوامان

## شورای ملی افغانستان

## مصوبه

## قانون حمل ونقل اموال

شمارهٔ مسلسل : (۱۴۳)
تاريخ تصويب : ۱۳۸۸/٦/۱۰
به تأسی ازحکم مندرج مادهٔ صدم قانون اساسی، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی مرکب از پنج پنج نفراز اعضای هرجرگه قانون حمل ونقل اموال را به داخل هفت فصل وسی ماده به تاريخ دهم ماه سنبله سال ۱۳۸۸ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط
انجنير محمدخان

معاون هيئت مختلط
قاضی سعدالله ابوامان

# فهرست مندرجات

## قانون حمل ونقل اموال

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۲ |


## فصل دوم

## بارنامه


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم: | انواع بارنامه | ۵ |
| مادۀ پنجم : | مندرجات بارنامه | ٦ |
| مادۀ ششم: | مستند بودن بارنامه | ۸ |


## فصل سوم

## مسئولیت های متصدی


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ هفتم: | مسئولیت در دورۀ تصدی | ۹ |
| مادۀ هشتم: | مسئولیت متصدی درنقص ظاهری اموال | ۱۰ |
| مادۀ نهم: | مسئولیت متصدی در ارسال راهبارنامه | ۱۱ |
| مادۀ دهم: | مسئولیت متصدی از اطلاع رسیدن بار | ۱۱ |

مادۀ یازدهم: حالات جبران خسارۀ ناشی ازمسئولیت متصدی.۱۲
مادۀ دوازدهم: جبران خساره به اساس خسارۀ وارده یا کاهش در اموال ........................................۱۳
مادۀ سیزدهم: ارزیابی جبران خسارۀ وارده ..................۱۵
مادۀ چهاردهم: حالات برائت متصدی..........................۱٦
مادۀ پانزدهم: مرور زمان ....................................۱۷

## فصل چهارم

## مسئولیت های فرستنده وگیرنده

مادۀ شانزدهم: دراختیار قراردادن معلومات لازم................۱۸
مادۀ هفدهم : پرداخت اجرت...................................۱۹
مادۀ هجدهم : هدایت خاص......................................۱۹
مادۀ نزدهم : بسته بندی مناسب.................................۲۰
مادۀ بیستم: بررسی مجدد بار....................................۲۰

## فصل پنجم

## حقوق و وجایب متصدی

مادۀ بیست ویکم: دریافت اجرت...................................۲۰
مادۀ بیست ودوم: نگهداری وفروش اموال توسط متصدی..........۲۱

## فصل ششم

## حقوق ووجایب فرستنده وگیرنده

مادۀ بیست وسوم: مطالبۀ مجدد بار................................۲۳

مادۀ بیست وچهارم: حالات عدم مطالبۀ بار............................۲۴
مادۀ بیست وپنجم : تأخیر درتحویلی اموال......................... .۲۴

فصل هفتم

احکام متفرقه

مادۀ بیست وششم: رعایت کنوانسیون های بین المللی..............۲۵
مادۀ بیست و هفتم: حل وفصل منازعات..............................۲٦
مادۀ بیست و هشتم: حمل ونقل مسافر ومحموله های پستی...........۲٦
مادۀ بیست و نهم: وضع مقررات ، لوایح وطرزالعمل ها.............۲٦
مادۀ سی ام: انفاذ.............................................۲۷

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مالونو د حمل او نقل قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړی ماده :**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون په يوولسمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره د حمل اونقل د چارو او په هغو پورې د اړوندو خدمتونو د تنظيم په منظور، وضع شوی دی .

**موخې**

**دوه يمه ماده :**

د دې قانون موخې عبارت دي له:

۱- دمالونو حمل اونقل ته د اسانتياوو د زمينې برابرول.

۲- د مالونو د حمل او نقل د خونديتوب تأمينول.

# قانون حمل ونقل اموال

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول :**

این قانون با رعایت حکم مندرج مادۀ یاز دهم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امور حمل ونقل اموا ل و خدمات مربوط به آن وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم :**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- فراهم نمودن زمینۀ تسهیلات حمل ونقل اموال.

۲- تأمین مصئونیت حمل ونقل اموال .

۳- د مالونو د حمل او نقل د متصديانو دحقوقو او وجيبو ټاکل.

**اصطلاحګاني**

**دريمه ماده :**

پدې قانون کې لاندې اصطلاحګانې دغه مفاهيم افاده کوي :

۱- حمل اونقل : د بار، بارول، ځای پرځای کول اوله يوه ځای څخه بل ځای ته ئې لېږدول دي.

۲- دحمل اونقل قرارداد: هغه ليکلی سند دی چې پرموجب يې ددې قانون د حکمونو مطابق، د اړخونو د حقوقو او وجيبو حدود مشخصېږي.

۳- د حمل او نقل متصدي: هغه حقيقي يا حکمي شخص دی چې د حمل او نقل د قرارداد مطابق د بار حمل اونقل اود هغه اړوند خدمتونه په غاړه اخلي، او له دې وروسته په دې قانون کې د متصدي په نامه يادېږي

۴- دحمل اونقل استازی: هغه

۳- تعيين حقوق و وجايب متصديان حمل و نقل اموال.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم :**

اصطلاحات آتی دراين قانون مفاهيم ذيل را افاده می نمايد :

۱- حمل ونقل : بارگيری ، جا به جا کردن وانتقال بار از يک محل به محل ديگر می باشد.

۲- قرارداد حمل ونقل:سند کتبی است که به موجب آن حدود حقوق و وجايب طرفين مطابق احکام اين قانون مشخص می گردد.

۳- متصدی حمل ونقل : شخص حقيقی يا حکمی است که مطابق قرارداد حمل ونقل، مسئوليت حمل ونقل بار وخدمات مربوط را به عهده می گيرد، و منبعد در اين قانون به نام متصدی ياد می گردد.

۴- نمايندۀ حمل و نقل: شخصی

شخص دی چې د استوونکي یا اخستونکي په نیابت یا استازیتوب دحمل اونقل دعملیاتو هم غاړیتوب او ترتیب، د قرارداد مطابق په غاړه اخلي.

۵- بار(محموله) : له هر ډول مالونو، ژوندیو حیواناتو او د صندوق، قفس، تخته بند اوکانتینر په شان د حمل او نقل له لوازموڅخه عبارت دي ، په دې شرط چې نوموړي لوازم په متصدي پورې اړه ونلري .

٦- بارلیک : د مالونو دحمل اونقل سند دی چې په لیکلې یا الکترونیکي توګه، د متصدي لخوا صادر او استوونکي ته ورتسلیمیږي.

۷- لاربار لیک: لیکلی یا الکترونیکی سند دی چې د حمل کوونکي په واسطه صادریږي.

۸- نقلیه وسایط : ځمکني ، هوایي او د سیندیز موتور لرونکي وسایل دي چې دموتور یا بلې وسیلې په

است که به نیابت یا نمایندگی از فرستنده یا گیرنده ، همآهنگی وترتیب عملیات حمل ونقل را مطابق قرارداد به عهده می گیرد.

۵- بار(محموله) : عبارت است از هرگونه اموا ل ، حیوانات زنده ولوازم حمل ونقل از قبیل صندوق، قفس، تخته بند و کانتینر مشروط بر اینکه لوازم مذکور متعلق به متصدی نه باشد.

٦- بارنامه : سند حمل ونقل اموال است که به شکل تحریری یا الکترونیکی توسط متصدی صادر وبه فرستنده تسلیم داده می شود.

۷- راهبار نامه : سند تحریری یا الکترونیکی است که توسط حمل کننده صادر می شود.

۸- وسایط نقلیه : وسایل موتوردار زمینی، هوائی و دریائی که با قوۀ موتور،قوۀ محرکه یا وسیلۀ دیگر

محرکه قوې سره په خوځېدو راځي او دمالونو دحمل او نقل لپاره ترګټې اخستنې لاندې نيول کېږي.

٩- د واک حدود : دمتصدي په واسطه په بارليک کې په مشخص شوي ځای کې دمالونو دحمل اونقل لپاره دهغو تر تحويلولو پورې دمالونو تسليمي اومنل دي.

١٠- واقعي حمل کوونکی : هغه حکمي شخص دی چې دمالونو دحمل او نقل ټول يا يوه برخه عمليات چې د حمل او نقل د قرارداد پر موجب د استوونکي يا متصدي لخوا هغه ته پرېښودل شوي، له ځمکنيو، هوايي او سيند لارو څخه په يوې باندې، له هغو نقليه وسايطو څخه په ګټې اخستنې سره چې په واک کې يې لري، سرته رسوي.

به حرکت در آمده وبرای حمل ونقل اموال مورد استفاده قرار می گیرد.

٩- حيطۀ اختيار : تسليمی وقبولی اموال جهت حمل ونقل الی تحويلی آن توسط متصدی در محل مشخص شدۀ بارنامه می باشد.

١٠- حمل کنندۀ واقعی: شخص حکمی است که تمام يا قسمتی از عمليات حمل و نقل اموا ل را که به موجب قرارداد حمل ونقل از طرف فرستنده يا متصدی به او واگذار گرديده، به يکی از طرق زمينی، هوائی و دريائی با استفاده از وسايط نقليۀکه در اختيار دارد، انجام می دهد.

## دوه يم فصل

## بارليک

**د بارليکونو ډولونه**

**څلورمه ماده :**

بارليک دحمل اونقل دقرارداد ، د مالونو دمالکيت دحـــق او رســـيد څرګندوی دی چې په يوه له لاندې ډولونو څخه صادرېږي :

۱- د معاملې وړ بارليـــک : هـــر بارليک د معاملې وړ دی خو دا چې د «نه معـــاملې وړ» عبـــارت پـــه وضاحت سره پکې درج شوی وي.

په بارليک کې د «نه معـــاملې وړ» دعبارت د درجېدو په صورت کې يـــوازې په بــــارليک کـــې درج شـــوی شــــخص، داخــــستونکي په توګه دمالونو د ترلاســـه کولـــو د حق لرونکی دی.

۲- د نوم له قيد پرته بارليک: هغه بارليک دی چې پربنـــسټ يـــې، استوونکی کولی شي دبارليـــک د

## فصل دوم

## بارنامه

**انواع بار نامه**

**مادۀ چهارم :**

بارنامه مبين قرارداد حمل ونقل ، حق مالکيت اموال و رسيد بوده که به يکی از اشـــکال ذيـــل صـــادر می گردد :

۱- بارنامۀ قابل معامله : هربارنامه، قابل معامله می باشد مگر اين که عبارت «غير قابل معاملـــه» بـــه وضاحت در آن درج شده باشد.

درصـــورت درج عبـــارت«غيـــر قابـــل معاملـــه» در بارنامــــه صـــرف شـــخص منـــدرج بـــار نامـــه حـــق دريافـــت امـــوا ل را بـــه عنـــوان گيرنـــده دارا می باشد.

۲- بارنامۀ بـــدون قيـــد نـــام : بارنامه ای است که به اســـاس آن فرستنده می تواند، با ظهر نويسی

اصلي نسخې په پر شا ليکلو (ظهر نويسى) سره ، مالونــه لــه يــوه شخص څخه بل شخص ته ولېږدوي.
۳- دټاکلي نوم اونښان په قيد سره بارليک : هغه بارليک دی چې پـر بنسټ يې يوازې په بارليک کې درج شوی شخص داخستونکي په توګه دمالونو دترلاسه کولو ، پر شا ليکنې (ظهر نويسى) اوبل شــخص تــه دبارليک دلېږدولو دحق لرونکی دی.
۴- حامل بارليک : هغه بارليک دی چې پر بنسټ يې لرونکی ، دمــا ل خاوند ګڼل کېږي او د مــالونو د ترلاسه کولو يا بل شــخص تــه د پرېښودلو دحق لرونکی دی.

## د بارليک مندرجات

پنځمه ماده :

بارليک دلاندې مندرجاتو لرونکی دی:

۱- داســتوونکي نــوم او آدرس.
۲- د اخســتونکي نــوم او آدرس.
۳- د ما ل شــرح (وزن، ډول او

نسخهٔ اصــلى بارنامــه، امــوا ل را از يک شــخص بــه شــخص ديگـــر انتقـــا ل نمايـــد.
۳- بارنامـــهٔ بـــا قيـــد نـــام و نـــشان معـــين : بارنامـــه ای است که به اساس آن صرف شخص مندرج بارنامه به عنوان گيرنـــده، حق دريافت اموال، ظهرنويـــسى و انتقال بارنامه را بـــه شـــخص ديگـــر دارا مـــی باشـــد.
۴- بارنامهٔ حامل : بارنامه ای است که به اساس آن دارنده، صــاحب اموال شناخته شده وحق دريافت يا واگذاری اموال را به شخص ديگری دارا می باشد.

## مندرجات بارنامه

مادهٔ پنجم :

بارنامه دارای منــدرجات ذيــل می باشد:

۱- اســـم وآدرس فرســـتنده.
۲- اســـم و آدرس گيرنـــده.
۳- شرح ما ل ( وزن، نــوعيــت

دبار دبسته بنديو شمېر).

په هغه صورت کې چې بار، مالونه اوقيمتي اجناس (سره زر، سپين زر ، پيسې، بها لرونکي سندونه ، قيمتي ډبرې، عتيقه اجناس، جواهرات، انځورونه، هنري آثار او ورته مالونه ) يا خطرناک مواد او مالونه (هغه مواد او مالونه چې خطرناک ، احتراقيه، انفجاريه، راډيواکتيف مضريا مخرب ماهيت ولري يا د پورته يادو شوو اغېزود رامنځته کولو موجب شي) وي، د هغو د ډول تشخيصول او طبقه بندي.

۴- د بار د تسليمۍ او تحويلۍ ځای.

۵- د حمل او نقل اجرت.

۶- د لزوم په صورت کې د مال بيه.

۷- مرجع ته دمالونو دحمل او رسولو لپاره د موافقه شوی وخت موده.

۸- نېټه، د صادرېدو ځای، دمتصدی نوم او آدرس.

۹- نور هغه معلومات چې اړخونه په

وتعداد بسته بندی های بار).

درصورتيکه بار، اموا ل و اجناس قيمتی (طلا، نقره، پول، اسناد بهادار، سنگهای قيمتی، اجناس عتيقه، جواهرات، تصاوير، آثار هنری و اموال مشابه) يا مواد واموال خطرناک (مواد و اموال که ماهيت خطرناک، احتراقيه، انفجاريه، راديو اکتيف مضر يا مخرب داشته باشد يا موجب به وجود آوردن اثرات فوق الذکر گردد) باشد، تشخيص نوعيت وطبقه بندی آن ها .

۴- محل تسليمی و تحويلی بار.

۵- اجرت حمل ونقل .

۶- قيمت مال درصورت لزوم.

۷- مدت زمان توافق شده جهت حمل و رسانيدن اموا ل به مرجع.

۸- تاريخ، محل صدور، اسم و آدرس متصدی.

۹- ساير معلوماتی که طرفين درج

بارليک کې د هغو درجېدل اړين تشخيص کړي.

## دبارليک مستندوالي

**شپږمه ماده:**

بارليک په لاندې حالاتو کې مستند ګڼل کېږي :

(۱) په هغه صورت کې چې متصدي دمالونو دمشخصاتو ټوله شرح،په صادر شوي بارليک کې درج کړې وي ، خوداچې په صادر شوي بارليک کې د «بارونې، بارچينی، شمېرنې يا د استوونکي د اظهاراتو مطابق » په شان عبارتونه قيد شوي وي.

(۲) په هغه صورت کې چې اخستونکی ، دصادر شوي بارليک په مندرجاتو باندې ، په ښه نيت سره باور وکړي ، پدې صورت کې دبارليک په متن کې هر ډول بدلون او دعبارت درجول د اعتبار وړندي.

(۳) په هغه صورت کې چې اخستونکی، دصادرشوي بارليک

آنرا در بارنامه ضروری تشخيص دهند.

## مستند بودن بارنامه

**مادۀ ششم :**

بارنامه درحالات ذيل مستند پنداشته می شود :

(۱) درصورتی که متصدی تمام شرح مشخصات اموا ل را در بارنامۀ صادر شده، درج نموده باشد، مگر اينکه در بارنامۀ صادر شده عبارتی مانند «بارگيری ، بارچينی، شمارش يا طبق اظهارات فرستنده » قيد شده باشد.

(۲) درصورتی که گيرنده به مندرجات بارنامۀ صادر شده با حسن نيت اعتماد نمايد ، در اين صورت هرنوع تغيير و درج عبارت در متن بارنامه مدار اعتبار نمی باشد.

(۳) درصورتی که گيرنده، نسخۀ اصلی بارنامۀ صادره را بعد از

اصلي نسخه د بارله ترلاسه کولـــو وروسته، دنېټې په يـــادولو ســـره ظهرنويسي کړي او دهغې قـــانوني متصدی يا استازي ته يې مـــسترده کړي.دبارليک دظهر نويسي شوې نسخې تسليمي، دبارليک نـــورې نسخې له اعتباره غور ځوي.

## درېيم فصل

## دمتصدي مسئوليتونه

### دتصدی په دوره کې مسئوليت

اوومه ماده :

(۱) دمتصدي مسئوليت له هغهٔ وخته چې مالونه د هغهٔ د واک په حدودو کې قرار مومي ، پيل او په بارليک يا لاربارليک کې درج شوي شخص يا د بارليک لرونکی يا دهغهٔ قـــانوني استازي ته په مرجع کې دهغو پـــه تحويلولو سره پای ته رسېږي.

(۲) متـــصدي، د ثـــالثو اشخـــاصو (مستخدمين، استازي او قرار داديان) چې د قرار داد د اجرأ په منظور د

دريافت بار بـــا ذکـــر تـــاريخ ، ظهرنويسی نموده و به متصدی يا نماينـــدهٔ قـــانونی وی مـــسترد نمايد.تسليمی نسخهٔ ظهرنويـــسی شدهٔ بارنامه، ساير نـــسخه هـــای بارنامـــه را از اعتبـــار ســـاقط می سازد.

## فصل سوم

## مسئوليت های متصدی

### مسئوليت دردورهٔ تصدی

مادهٔ هفتم :

(۱) مسئوليت متصدی از زمـــانی که اموا ل درحيطـــهٔ اختيـــار وی قرار می گيرد، شروع و الی تحويل آن در مرجع به شـــخص منـــدرج بارنامه يا راهبارنامه يـــا دارنـــدهٔ بارنامه يـــا نماينـــدهٔ قـــانونی وی پايان می يابد.

(۲) متصدی ، از عمل يا ترک عمل اشـــخاص ثالـــث (مـــستخدمين، نمايندگان وقراردادی ها) که بـــه

هغوی له خدمت څخه ګټه اخستل کېږي، ددندې د سرته رسولو په وخت کې له عمل يا دعمل له پرېښودو څخه مسئول دی او داسې ګڼل کېږي چې دغه عمل يا دعمل پرېښودل پخپله دمتصدي په وسيله صورت موندلی دی.

(۳) متصدي چې داستازي په توګه عمل کوي ، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو ثالثو اشخاصو مسئوليت په غاړه نلري، يوازې دعمل د اجرأ له سموالي څخه د څېرتوب او څارنې او پر هغوی باندې د نظارت مسئول دی.

## دمالونو په ظاهري نيمګړتيا کې دمتصدي مسئوليت

اتمه ماده :

که چېرې دمالونو په بسته بندۍ او ظاهر کې عيب او نيمګړتيا موجود وي اومتصدي په بارليک کې د ملاحظې له درجولو پرته، هغه منلې وي،پدې صورت کې متصدي د مالونو د

منظور اجرای قرارداد از خدمات آن ها استفاده صورت می گیرد، حین انجام وظایف مسئول بوده، چنین پنداشته می شود که این عمل یا ترک عمل به وسیلۀ خود متصدی صورت گرفته است.

(۳) متصدی که به حیث نماینده عمل می نماید ، مسئولیت اشخاص ثالث مندرج فقرۀ (۲) این ماده را به عهده نداشته، صرف مسئول دقت ومراقبت از صحت اجرای عمل ونظارت بر آن ها می باشد.

## مسئولیت متصدی درنقص ظاهری اموال

مادۀ هشتم :

هرگاه دربسته بندی وظاهر اموال عیب ونقص وجود داشته ومتصدی بدون درج ملاحظه دربار نامه، آن را قبول نموده باشد ، در این صورت

هـــر ډول تلف کېدو او هغو تـــه د اووښـــتي زيـــان مـــسئول پېژنـــدل کېږي.

**د لاربارليک په اسـتولوکې د متصدي مسئوليت**

**نهمه ماده :**

متصدي مکلـــف دی دحمـــل او نقل په وخت کـــې د لاربارليـــک يـــوه نـــسخه لـــه مـــالونو سـره واستوي.

**دبار د رسېدنې له خبرتيا څخه دمتصدي مسئوليت**

**لسمه ماده :**

متصدي مکلف دی،مرجع ته د بارله رسېدو څخه زيات نه زيات د دوو ورځو مودې په ترڅ کې اخستونکی خبرکړي، خودا چې ثابته کړي چې ځانګړي اوضـــاع او احـــوا ل د دغې مودې د په پام کې نيولوخنـــډ ګرځېدلی دی.

متصدی مسئول هرنـــوع اتـــلاف وخسارهٔ وارده بر اموا ل شـــناخته می شود.

**مسئوليت متصدی در ارســـال راهبارنامه**

**مادهٔ نهم :**

متـــصدی مکلـــف اســـت يـــک نـــسخهٔ راهبارنامـــه را حـــين حمل ونقل بـــا امـــوا ل ارســـال نمايد.

**مسئوليت متـــصدی ازاطـــلاع رسيدن بار**

**مادهٔ دهم :**

متصدی مکلف اســـت، حـــداکثر در خــــلا ل مــــدت دو روز از رسيدن بار به مرجـــع، گيرنـــده را مطلـــع ســـازد، مگـــر اينکـــه ثابـــت نمايـــد کـــه اوضـــاع و احوا ل خاص مـــانع رعايـــت اين مدت شده است.

**دمتصدي لــه مــسئوليت څخــه درامنځته شوي زيان دجبران حالات**

**يوو لسمه ماده :**

(۱) که چېرې مالونه دحمل اونقل په بهيرکې ورک،ضايع ، تلف يـا زيانمن شي،متصدي مکلــف دی، اووښــتی زيــان اســتوونکي يــا اخستونکي ته جبران کړي،خو داچی ثابته کړي چې ورکېدل،ضايع کېدل، تلف کېدل يا اووښتی زيان، پخپله په مال پورې اړه لري يا د استوونکي يا اخستونکي له تقصير يا له هغه دستور څخه را پيدا شوی چې دهغوی پــه واسطه يا لخوا، صادر شوی دی.

په هغهٔ صورت کې چې متــصدي دمالونو دحمل اونقل لپاره بل شخص وگماري ، مسئول دی. پدې صورت کې متصدي کولی شي د اووښــتي زيان جبران له توظيف شوي شخص څخه وغواړي.

(۲) که چېرې اووښتی زيــان پــه تحويلولو کې له ځنډ څخه راپيــدا

**حـــالات جبـــران خـــسارهٔ ناشی از مسئوليت متصدی**

**مادهٔ يازدهم :**

(۱) هرگاه اموال در جريان حمل ونقل مفقود ، ضايع ، تلــف يــا خساره مند گردد، متصدی مکلف است ، خسارهٔ وارده را به فرستنده يا گيرنده جبران نمايد ، مگر اينکه ثابت نمايد مفقودی، ضياع، اتلاف يا خساره وارده، مربوط به خــود ما ل بوده يا ناشی از تقصير فرستنده يا گيرنده يا ناشی از دستوری بوده که توسط يا از جانب آنها صــادر گرديده است.

درصورتی که متصدی جهت حمل ونقــل اموال،شــخص ديگــری راتوظيف نمايد ، مسئول می باشد. دراين صورت متصدی می توانــد جبران خساره وارده را از شخص توظيف شده مطالبه نمايد.

(۲) هرگاه خسارهٔ وارده ناشی از تأخير در تحويلی باشد ، درصورت

شوی وي ، داثبات په صورت کې متصدي د ترلاسه کولو وړ اجرت د ورځني ځنډ په ورکولو مکلف دی، خو دا چې اړخونو په قرارداد کې بل مبلغ ټاکلی یاپې په بارلیک کې درج کړی وي.

په تحویلولو کې ځنډ هغه وخت تحقق مومي چې بار په ټاکلې موده کې او دنومو ړې مودې دنه ټاکنې په صورت کې په معقوله او متعارفه موده کې مرجع ته رسېدلی نه وي او تحویل شوی نه وي.

اخستونکی کولی شي دمالونو له تحویلي وروسته د(۲۱) ورځو مودې په ترڅ کې ، دمالونو د تحویلي له ځنډ بدو څخه د راپیدا شوي زیان دجبران غوښتنه وکړي.

## د اووښتي زیان یا په مالونو کې دلږوالي پربنسټ د زیان جبران

دوولسمه ماده :

(۱) که چېرې اخستونکي ته دمتصدي په واسطه د بار

اثبات آن، متصدی مکلف به پرداخت تأخیر روزانهٔ اجرت قابل دریافت می باشد ، مگر اینکه طرفین مبلغ دیگری را در قرار داد معین یا در بارنامه درج کرده باشند.

تأخیر در تحویلی زمانی تحقق می یابد که بار در مدت زمان معینه ودر صورت عدم تعیین مدت مذکور در مدت زمان معقول و متعارف به مرجع نرسیده وتحویل نشده باشد .

گیرنده می تواند درخلا ل مدت (۲۱) روز بعد از تحویلی اموال علیه متصدی جبران خساره ناشی از تأخیر تحویلی اموا ل را ادعا نماید.

## جبران خساره به اساس خسارهٔ وارده یا کاهش دراموال

مادهٔ دوازدهم :

(۱) هرگاه حین تحویلی بار توسط متصدی به گیرنده ،

دتحويلۍ په وخت کې په مالونوکې زيان يا لړوالى څرګندشي اوله هغو څخه متصدي ته په ليکلې توګه خبر ورکول شي، پدې صورت کې متصدي د اووښتي زيان دجبران مسئول پيژندل کيږي.

(۲) که چيرې اخستونکي ته دمتصدي په واسطه د بار دتحويلۍ په وخت کې په مالونوکې زيان يا لړوالى نا څرګند وي ، موضوع له احوالو سره سم داخستونکي لخوا تر څيړنې لاندې نيول کيږي. پدې صورت کې د زيان د جبران ادعا دمالونو دتحويلۍ له نيټې څخه تر (۷) ورځو پورې داوريدو وړده، خوداچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې مودې له تيريدو وروسته د متصدي پرعليه ادعا ، داوريدلو وړنده،خوداچې مدعي ثابته کړي،په ياده شوې موده کې دخبرتيا صادرول هغۀ ته مقدوراوشوني نه وو.

خساره يا كاهش در اموا ل آشكار و از آن به متصدى طورتحريرى اطلاع داده شود، دراين صورت متصدى مسئول جبران خسارۀ وارده شناخته مى شود.

(۲)هرگاه حين تحويلى بار توسط متصدى به گيرنده خساره يا كاهش در اموال غير آشكار باشد، حسب احوال موضوع از طرف گيرنده مورد رسيدگى قرار مى گيرد. در اين صورت ادعاى جبران خساره الى (۷) روز از تاريخ تحويلى اموال قابل سمع مى باشد ، مگر اين كه طرفين طور ديگرى موافقه نموده باشند.

(۳) بعد از سپرى شدن مدت مندرج فقرۀ (۲) اين ماده ادعا عليه متصدى قابل سمع نمى باشد ، مگر اين كه مدعى ثابت نمايد، صدور اطلاع در مدت مذكور براى وى مقدور وممكن نبوده است.

## د اووښتي زيان دجبران ارزونه

**ديارلسمه ماده :**

(۱) استوونکی او متصدي کولی شي دحمل اونقل وړمالونو دزيـــان دجبران مبلغ ، په اړوند قرارداد کې وټاکي.

(۲) مالونوته داووښتي زيـــان يـــا تلف کېدو جبران ، متصدي ته دهغو دتسليمۍ په ځای او وخت کـــې، ارزول او تثبيت کېږي. دمالونو بيه د بورس د روان نرخ پر بنسټ يـــا د بازار دورځې د نرخ يا دورته مالونو دنرخ له مخې دحمل اونقـــل پـــر لګښتونو، ګمرکي محصول او نور هغو لګښتونو برسېره چې د بـــار د حمل او نقل په اړه يـــې صـــورت موندلی، ټاکل کېږي، پدې شرط چې د متصدی د حـــد اکـــثر ژمنه له هغۀ مبـــلغ څـــخه چـــې پـــه قرارداد يا بارليک کې ټاکل شوی، تجاوز ونکړي.

## ارزيابی جبران خـــسارۀ وارده

**مادۀ سيزدهم :**

(۱) فرستنده ومتصدی می توانند مبلغ جبران خسارۀ اموا ل مـــورد حمل ونقل را در قرارداد مربـــوط معين نمايند.

(۲) جبـــران خـــسارۀ وارده يـــا اتلاف اموال بر اساس قيمت اموا ل در مکان وزمان تحـــويلی آن بـــه متـــصدی، ارزيـــابی و تثبيـــت می گردد. قيمت اموال بر اســـاس نرخ جاری بورس يا حسب نرخ روز بازار يا نرخ اموال مشابه بر علاوۀ مصارف حمل ونقـــل، محـــصول گمرکی وساير مـــصارف کـــه در ارتباط با حمل ونقل بار صـــورت گرفتـــه ، تعيـــين مـــی گـــردد، مـــشروط بـــر اينکـــه حـــداکثر تعهد متـــصدی از مبلغـــی کـــه در قرارداد يـــا بارنـــامه تعـــيين گرديده، تجاوز نه نمايد.

## دمتصدي دبرائت حالات

**ثوارلسمه ماده :**

(۱) متصدي په لاندې حـــالاتوکې مسئول نه ګڼل کېږي:

۱- داستوونکي ، اخستونکي یا هغهٔ شـــخص چـــې لـــه هغـــو څخـــه استازیتوب کوي، دعمل یا دعمل د پرېښودو په صورت کې.

۲- دمالونو دذاتي عیب یـــا پـــه بسته بندۍ، مشخصاتو،نښې یا پرهغو دشمېرې په وهلو کې دنیمګړتیا په صورت کې .

۳- په هغهٔ صورت کې چې اووښتی زیان یا دمالونو ضایع کېدل د نـــا څاپي پېښو له پېښېدو څخه را پیدا شوي وي او متصدي ثابته کړي چې دهغو پېښېدل دهغهٔ له تقصیر څخه ندي را منځته شوي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې متصدي دبار په بسته بندۍ کې دظاهري عیب دموجودیت په اړه خپله ملاحظه ، په بارلیک کې درج کړې وي.

## حالات برائت متصدی

**مادهٔ چهاردهم :**

(۱) متـــصدی در حـــالات ذیـــل مسئول شناخته نمی شود :

۱- درصورت عمل یا ترک عمل فرستنده، گیرنـــده یـــا شـــخص کـــه از آن هـــا نماینـــدگی می نماید.

۲- درصـــورت عیـــب ذاتـــی اموال یا نقص در بـــسته بنـــدی ، مشخصات ، علامت یـــا شـــماره گذاری آن .

۳- درصورتی که خـــسارهٔ وارده یا ضیاع اموا ل ناشـــی از بـــروز حوادث غیـــر مترقبـــه بـــوده و متصدی ثابت نماید که بـــروز آن ناشـــی از تقـــصیر وی نبـــوده است.

۴- درصورتی که متصدی ملاحظهٔ خود را مبنی بر موجودیت عیـــب ظـــاهری در بـــسته بنـــدی بـــار در بار نامه درج نموده باشد.

(۲) که چېرې متصدي داستازي په توګه دنده ترسره کړي ، له مسئوليت څخه بري الذمه دی، خوداچې دعمل داجرأ له سموالي څخه ځيرتيا(دقت) او څارنه دهغهٔ لخوا صورت نه وي موندلی.

(۳) مستخدم، قراردادي او د متصدي استازی هم په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتوکې دخپلو دندو دسرته رسولو په وخت کې بري الذمه وي.

## د وخت تيرېدل

پنځلسمه ماده :

(۱) دمتصدي پرعليه د دعوي د اقامې دوخت دتېرېدو(مرورزمان) موده، د (۹) مياشتوتربشپړېدو پورې ده.

(۲) د واقعي حمل کوونکي پرعليه د دعوي داقامې د وخت دتېرېدو (مرور زمان) موده، په لاندې حالاتوکې دیوهٔ کال تربشپړېدو پورې ده:

۱- دمالونو د تحويلی د نېټې له

(۲) هرگاه متصدی بحیث نماینده ، اجرای وظیفه نماید،از مسئولیت بری الذمه می باشد، مگر این که دقت ومراقبت از صحت اجرای عمل از جانب وی صورت نه گرفته باشد.

(۳) مستخدم ،قرار دادی و نمایندهٔ متصدی نیزحین انجام وظایف محولهٔ خویش در حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده بری الذمه می باشند.

## مرور زمان

مادهٔ پانزدهم :

(۱) مدت مرور زمان اقامهٔ دعوی علیه متصدی الی تکمیل (۹) ماه می باشد .

(۲)مدت مرور زمان اقامهٔ دعوی علیه حمل کنندهٔ واقعی درحالات ذیل الی تکمیل یک سال می باشد :

۱- بعد از سپری شدن تاریخ

تېرېدو وروسته.

۲- دهغې نېټې له تېرېدو وروسته چې مالونه بايد تحويل شوي وي.

۳- دمالونو د ورکېدو د اعلام له نېټې وروسته.

(۳) د دې مادې په (۱ او۲ )فقرو کې د درج شوي وخت د تېرېدو له بشپړتيا وروسته، متصدي يا واقعي حمل کوونکی له مسئوليت څخــه بري الذمه ګڼل کېږي.

## څلورم فصل

## داستوونکي او

## اخستونکي مسئوليتونه

<u>دلازمومعلوماتو په واک کــې ورکول</u>

شپاړسمه ماده :

استوونکی يايې استازی مکلف دی ، دمالونو دمشخصاتوشرح او نور لازم معلومات،ددې قانون په پنځمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق ، په بارليک کې درج او دمتصدي پــه

تحويلی اموال.

۲- بعد از سپری شدن تاريخی که اموال بايد تحويل می شد.

۳- بعد از تاريخ اعلام مفقــودی اموال.

(۳) بعـــد از ســـپری شـــدن مرور زمان مندرج فقــره هـــای (۱و۲) اين ماده، متصدی يا حمل كنندهٔ واقعی از مسئوليت بری الذمه شناخته می شود.

## فصل چهارم

## مسئوليت های فرستنده

## وگيرنده

<u>در اختيار قرار دادن معلومات لازم</u>

مادهٔ شانزدهم :

فرستنده يا نمايندهٔ وی مكلف است، شرح مشخصات اموا ل وســاير معلومات لازم را طبق حكم مندرج مادهٔ پنجم اين قــانون دربارنامــه درج و در اختيار متصدی قــرار

واک کې ورکړي ، پرته لدې استوونکی یا ئې استازی د هغه زیان دجبران مسئول دی چې متصدي دهغه دواقعیت له خلاف څرګندونو څخه زغملی دی.

## د اجرت ورکړه

اوولسمه ماده :

استوونکی یا اخستونکی یا دهغوی استازی مکلف دی د بار دحمل او نقل اجرت اوپه هغوی پورې نور اړوند لګښتونه دقرارداد مطابق متصدي ته ورکړي.

## خاصه لارښوونه

اتلسمه ماده :

استوونکی مکلف دی، د اړتیا په صورت کې دبار دحمل او نقل په هکله خاص دستورونه او لارښوونې په لیکلې توګه متصدي ته ابلاغ او دهغۀ لیکلې موافقه دهغو داجرأ لپاره ترلاسه کړي.

دهد، درغیر آن فرستنده یا نمایندۀ وی مسئول جبران خسارۀ می باشد که متصدی از اظهارات خلاف واقعیت وی متحمل گردیده است.

## پرداخت اجرت

مادۀ هفدهم :

فرستنده یا گیرنده یا نمایندۀ آن ها مکلف است ، اجرت حمل ونقل بار وسایر مصارف مربوط آن را طبق قرارداد به متصدی تأدیه نماید.

## هدایت خاص

مادۀ هجدهم :

فرستنده مکلف است، در صورت ضرورت دساتیر و هدایات خاص در مورد حمل ونقل بار را طور تحریری به متصدی ابلاغ وموافقۀ تحریری وی را جهت اجرای آنها کسب نماید.

**مناسبه بسته بندي**

**نولسمه ماده :**

استوونکی مکلف دی ، بار داسې بسته بندي کړي چې دهغو دحمل اونقل په بهیرکې هغو ته زیان ونه رسېږي ، لدی پرته دبسته بندی له نیمگړتیا څخه را پیدا شوی زیان ، دهغهٔ پخپله ذمه دی.

**د باربیا کتنه**

**شلمه ماده :**

استوونکی کولی شي، له متصدي څخه وغواړي چې د بار د بستو منځ پانگه(محتویات)په دقیقه توگه وگوري اوتأیید ئې کړي. د متصدي دموافقې په صورت کې، له هغو څخه رامنځته شوي لگښتونه د استوونکي په ذمه دي.

## پنځم فصل

## دمتصدي حقوق او وجیبې

**د اجرت ترلاسه کول**

**یوویشتمه ماده :**

متصدي دبار دحمل اونقل

**بسته بندی مناسب**

**مادهٔ نزدهم :**

فرستنده مکلف است ، بار را طوری بسته بندی نماید که در جریان حمل ونقل به آن ها خساره وارد نگردد ، درغیر آن خساره ناشی از نقص بسته بندی به ذمهٔ خود وی می باشد.

**بررسی مجدد بار**

**مادهٔ بیستم :**

فرستنده می تواند ، از متصدی تقاضا نماید که محتویات بسته های بار را طور دقیق بررسی وتأیید نماید. در صورت موافقه متصدی، مصارف ناشی از آن به ذمهٔ فرستنده می باشد.

## فصل پنجم

## حقوق و وجایب متصدی

**دریافت اجرت**

**مادهٔ بیست ویکم :**

متصدی مستحق دریافت

داجـــرت د ترلاســـه کولـــو مـــستحق دی چـــې دقـــرارداد د مندرجاتو مطابق، په دمخه ورکړې يا په مرجع کې دورکړې پـــه ډول ، ورکول کېږي.

## دمتصدي په واسطه دمالونو ساتنه او پلورل

دوه ويشتمه ماده :

(۱) که چېرې اخستونکی، بارتسليم نکړي يا اجرت يا نور سرته رسېدلي لګښتونه چې د متصدي په واسطه ورکـــړل شـــويدي،ورنکړي يـــا اخســـتونکي تـــه لاس رسی ونشي، متصدي مکلف دی له موضوع څخه استوونکي ته خبر ورکړي او بارپه مؤقتي توګه له ځان يا ثالث شخص سره په امانت ډول وساتي، پـــدې صورت کې دبارله ســـاتنې څخـــه رامنځته شوي لګښتونه او په هغوکې دعيب او نيمګړتيا پيدا کېـــدل د استوونکی پرغاړه دي.

(۲)که چېرې استوونکی یا اخستونکی

اجـــرت حمـــل ونقـــل بـــار بوده کـــه مطـــابق منـــدرجات قـــرار داد طـــور پـــيش پرداخت يا پرداخت در مرجـــع ، تأديه می گردد.

## نگهداری وفروش اموال توسط متصدی

مادۀ بيست ودوم :

(۱) هرگاه گيرنده ، بار را تسليم نگرديده يا اجرت وساير مصارف انجام شده توسط متصدی را تأديه نه نمايد يا به گيرنده دسترسی حاصل نشود، متـــصدی مکلـــف اســـت موضوع را به فرســـتنده اطـــلاع داده وبار را مؤقتـــاً نـــزد خـــود يا شخص ثالث طـــور امانـــت ، نگهدارد، دراين صورت مصارف ناشـــی از نگهـــداری بـــار وبـــروز عيـــب ونقـــص در آن بـــه ذمـــۀ فرســـتنده می باشد.

(۲) هرگاه فرستنده يـــا گيرنـــده

په مناسب وخت کې موضوع ته رسيدګي ونکړي ، متصدي کولی شي د قوانينو د حکمونومطابق او دواک لرونکي محکمې د موافقې له اخستلو يا د حکم له صادرولو وروسته، مالونه وپلوري.

(۳) که چېرې مالونه سريع الفساد وي يا له پلورنې څخه ترلاسه شوی مبلغ،دهغو دلګښتونو بسنه ونکړي ، متصدي مکلف دی موضوع د واکمنی محکمې په خبرتيا ورسوي او نومورې مالونه د يادې شوې محکمې داستازي ترنظر لاندې وپلوري، پدې صورت کې متصدي مکلف دی، دمالونو له پلورنې څخه دمخه حتي الامکان استوونکی يا پلورونکی خبر کړي.

(۴) دمالونو له خرڅلاو څخه ترلاسه شوی مبلغ د متصدي دطلباتو له وضع کولو وروسته په استوونکي يا اخستونکي پورې اړه مومي. که چېرې لاسته راغلی مبلغ دمتصدي

در موعد مناسب به موضوع رسيدگی نه نمايد، متصدی می تواند، طبق احکام قوانين و بعد از اخذ موافقه يا صدور حکم محکمۀ با صلاحيت، اموال را به فروش برساند.

(۳) هرگاه اموال سريع الفساد بوده يا مبلغ حاصله از فروش ، تکافوی مصارف آن را نه نمايد، متصدی مکلف است موضوع را به محکمۀ با صلاحيت اطلاع داده واموال مذکور را تحت نظر نمايندۀ محکمۀ مذکور به فروش برساند، در اين صورت متصدی مکلف است، قبل از فروش اموال حتی الامکان فرستنده يا گيرنده را مطلع سازد.

(۴) مبلغ حاصله از فروش اموال بعد از وضع طلبات متصدی ، به فرستنده يا گيرنده تعلق می گيرد. هرگاه مبلغ حاصله تکافوی طلبات متصدی را نه

غوښتنې پوره نکړي، استوونکی یا اخستونکی دهغو په جبران مکلف دی.

## شپږم فصل
## داستوونکي اواخستونکي حقوق او وجیبې

**دبار بیاغوښتل**

**درویشتمه ماده :**

(۱) استوونکی کولی شي تر هغۀ وخته چې بار دمتصدي دواک په حدودو کې دی، هغه بېرته واخلي. پدې صورت کې بارلیک متصدي ته مسترد او استوونکی مکلف دی دمتصدي لګښتونه جبران کړي.

(۲) استوونکی کولی شي مرجع یا دبار اخستونکي ته بدلون ورکړي، پدې صورت کې هغه مکلف دی بارلیک متصدي ته ورتسلیم کړي. متصدي کولی شي دبارلیک متن اصلاح اود اړخونو په مهر اولاسلیک یې ورسوي یا داچې نوی بارلیک صادرکړي.

